

# د کوچیتوب، کوچیانو او دسیمې اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د افغان دولت ونډه

ډاکټر انتونیو ګیستوزي

سلواغه ۱۳۹۷

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
څېړنپاڼه

# د کوچیتوب، کوچیانو او د سیمې اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د افغان دولت ونډه

ډاکتر انتونیو ګیستوزي

سلواغه ۱۳۹۷

هغه نظریات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي په لیکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د نظریاتو منعکس کونکي نه دی.

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۴۱-۲۵-۹

د خپرونې کوډ: P ۱۸۲۲

©۱۳۹۷ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه کیدای شي یو اځې د غیری سواګریزو موخو لپاره نقل، حواله او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبعه یې خبره شی. په یاده خپرونه کې ځای شوی نظرونه لیکوال پوری اړه لرې او په حتمی ډول د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری او اروپایې ټولنې نظرونه نه منعکوسوی.

که چیری دغه خپرونه بیاچاپ، ذخیره او یا بریښنایې بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af ") ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنې یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنې برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو نشرول او همداسې د شواهدو پر بنسټ د څېړنې او زده کړې د کلتور خپرول دي. د پنسیلوانیا د پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یوو څېړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکې دی او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په پنځم کچه کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د السته راوړلو لپاره د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتونه کار واخلي او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره الره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نورو سازمانونو، مدني ټولنې او د خپلواکو کارپوهانو استازي په کې شامل دي، اداره کیږي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د بریتانیا د پراسپیکت مجلې (Prospect Magazine) د ۲۰۱۸ کال د نړیوال څېړونکې بنسټ جایزه ګټلې ده.




**مالي مرسته کوونکي:**

د دې ادارې مالي مرسته کوونکې د سویډن نړیواله پراختیایي اداره (SIDA) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ټاکلې پروژې په کال ۲۰۱۸ کې د لاندې نړیوالو سازمانو له خوا تمویل شوې دي

The European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO), Overseas Development Institute (ODI-UK), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development and Cooperation (SDC), School of Oriental and African Studies (SOAS) and British Council (BC).

**همدا راز دا اداره د لاندې نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لري:**

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

# د لیکوالو په اړه

ډاکټر انتونیو ګیستوزي د افغانستان په اړه ډېرې څېړنې کړې او په دې اړه یې زیاتې لیکنې خپرې شوې دي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری لپاره یې دا لاندې لیکنې خپرې کړې دي: ۳۰ کلنې شخړې (۲۰۱۲)، انعطاف منونکی کارتل: په شمالي افغانستان کې له ۲۰۰۱زیږدیز کال او له هغه وروسته سیاسي اقتصاد، (۲۰۱۲)، د افغان ملي اردو: له مالي اړخونو ها خوا دوامداره ننګونې (۲۰۱۴)، د افغانستان د لیسو سیاسي کول (۲۰۱۵)، د قضیې وروستی حد: د افغانستان په لیسو کې سیاسي فعالیت (۲۰۱۵)، او له ایساف څخه وروسته د افغان ملي اردو (۲۰۱۲). ډاکټر ګیستوزي د نړیوالو اړیکو په برخه کې د لندن د اقتصاد له پوهنځي څخه ډاکټري (پي ایچ ډي) کړې او بولونیا په پوهنتون کې یې د معاصر تاریخ په برخه کې د لیسانس تر درجې پورې زده کړې کړې.

# سریزه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره ویاړي چې د (کوچیتوب، کوچیانو او د سیمې اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د افغان دولت ونډه) تر عنوان لاندې نوې څېړنیزه مقاله وړاندې کوي. ددې څېړنې بحثونه او موندنې، هغه شواهد او موندنې دي چې ددې اداری څېړونکې ډاکتر انتونیو ګیستوزي په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د سخاوتمندانه مالي مرستې له لارې تر سره کړې دي. دا څېړنه (د طبیعی زیرمو د مدیریت د اساسی زمینو په اړوند درې اړخیزه څېړنیزه هڅه) لویې پروژې یوه برخه ده چې د اروپايي ټولنې له خوا تمویل شوې ده. ددې څېړنې په تیرو برخو کې د سیمې د اوسېدونکو او کوچیانو ترمنځ د شخړو د څرنګوالې پر پېژندنې کار شوی دی او دهغه سیمې شرایط چې دغه راز شخړې په کې منځته راځي شننه شوې ده. اما دا څېړنیزه مقاله چې د طبیعی زېرمو د مدیریت څېړنېزې پروژې د دریم رکن یوه برخه ده د موضوع تاریخي اړخونو تر بحث لاندې نیسی او د نوموړیو شخړو د مدیریت په اړوند د افغان دولت پر ونډې تمرکز کوي له هغه ځایه چې د کلونو په اوږدو کې په ټول هېواد کې د سیمې د اوسېدونکو او کوچیانو ترمنځ په پراخه پیمانه شخړې واقع شوې دي، اوسنۍ څېړنه د دولت ونډه د ۱۹۷۸م کال د جګړو د پیل څخه مخکې اړونده چې تر اوسه دوام لري تر مفصل بحث لاندې نیسي. ددې سربېره دا څېړنه د سیمې د اوسیدونکو او کوچیانو د شخړو په خاطر د دولت د اوسنی ونډې او دا چې څرنګه کېدای شي دا ونډه په راتلونکې کې بدلون ومومی تمرکز لري. دا څېړنه ددې څخه مخکې چې د شخړو او اختلافونو په اړوند د دولت پر حلیدونکي ونډې بحث وکړی په لنډه توګه هغه قانونونه او خبرې چې په دې موضوع پوری اړونده دي څېړي.

موږ د افغانستان د څېړنی او ارزونې په اداره کې په دې باور یو چې کولای شو د واقعیتونو پربنا د څېړنو او په ملی کچه د اړونده پالیسي جوړونکو او یوځای د ښستېیزو او اړینو ادارو سره د آزادو بحثونو له لارې د مطالعې او څېړنیز علمی کلتور پراخ کړو. د ستونزو ریښې پیدا او د هغه ستونزو په اړوند چې د کلونو کلونو راپدېخوا شتون لري ځانګړې سپارښتنې وړاندې کړو.

هیله لرم چې دا څېړنیزه مقاله به د یوې ارزښتمندی سرچینې په توګه د کارولو وړ وي او د پالیسي جوړونکو سره به مرسته وکړي. د هغو سپارښتنو پر بنسټ چې ددې مقالې په وروستۍ برخه کې وړاندې شوې دي د اوسنیو ستونزو او مسلو د حل په خاطر ترې کار واخلي.



ډاکتر اورځلا نعمت

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری رئیسه

# د موضوعاتو لیکلړ

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه ........ أ
د لیکوالو په اړه ........ ب
سریزه ........ ج
پېژندنه ........ ه
د تاریخ په بهیر کې د دولت ونډه ........ و
د افغان دولت او سنی ونډو جوړښتونه او قانونونه ........ ۱
د دولت ونډه د حَکَم په توګه ........ ۳
په راتلونکي کې د دولت احتمالي رول ........ ۲
سپارښتنې ........ ۲

# جدولونه

جدول: د کوچیانو - ځایي او سیدونکو په شخړو کې د ملاتړي سرچینو او منځګړیو د ونډې ارزونه، د پروژې د مرکه شویو کسانو له نظره (په سلنې) ........ ۵

# پېژندنه

د **۲۰۱۲**م کال په ډسمبر کې، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په افغانستان کې یې د طبیعي زیرمو د مدیریت په اړه یوه درې اړخیزه څېړنیزه پروژه پیل کړه. نوموړې پروژه د اروپايي ټولنې له لورې تمويل او درې رکنه لري. چې یو رکن یې د کوچیانو او د سیمې د اوسیدونکو په شخړو بحث کوي. دا څېړنیزه پروژه د دریو کلونو په ترڅ او په څو پړاوونو کې ترسره کېږي. اوسنۍ مقاله د دغې څیړنې د دویمې مرحلې پایله ده چې د کوچیانو او ځایي اوسېدونکو شخړې په اتو موضوعي څېړنو کې څېړي (چې د څېړنې په لومړۍ مرحله ترسره شوې دی). ددې برسیره په دې مقاله کې په کابل، بامیان، خوست، غزني، فراه، لوګر او میدان وردګ ولایتونو کې له حکومتي چارواکو، د ټولنو له مشرانو او نورو هغو کسانو سره مرکې تر سره شوې چې د دې شخړو شاهدان وو. دا څېړنیزه مقاله د لومړۍ او دويمې مرحلې پر موندنو رڼا اچوي او د ښکېلو غاړو تر منځ د شخړو په مدیریت کې د افغان دولت پر ونډې بحث کوي.

دا څېړنیزه مقاله د **۱۹۷۸** م کال څخه مخکې پیل شویو جګړو څخه تر اوسه یې دوام موندلی، د افغانستان دولت پر ونډه بحث کوي. اما تر ډېره په اوس وخت کې د کوچي او ځایي اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د دولت پر ونډه راڅرخي چې دا ونډه به راتلونکې کې څنګه بدلون موندلای شي. خو، د شخړې په هوارۍ کې د دولت پر ونډه د تفصیلي بحث څخه دمخه لومړی په لنډه توګه پر بنسټونو او حقوقي چوکاټونو کتنه کوو.

په افغانستان کې د جګړې دوام د کوچي-ځايي اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په منځګړیتوب کې د افغان دولت وړتیا اغېزمنوي، او حتی نوموړې شخړې لا تشدیدولای هم شي. په خپل وار سره، د سیمه ییزو شخړو د حل په خاطر نه وړتیا او لازم مدیریت ددې لامل کیږي چې شخړې او اختلافونه زیات او د دولت مشروعیت تضعیف شي نو افغان دولت باید ددې اختلافاتو او تاوتریخوالي په مدیریت کې بې غوری ونه کړي.

ددې څېړنی په ترڅ کې په اتو سیموکی **۴۲** موضوعی مرکې (په هغو ځایونو کې چې د سیمې د اوسېدونکو او کوچیانو ترمنځ شخړه پېښه شوی ده)، **۱۵** مرکې د کوچیانو له مشرانو او دسیمې د تولنو سره، **۴** مرکې د مجلس د استازو (پارلمان) د هغو غړو سره چې د شخړې مخه د اغیزمنو ټولنو او سیمو سره په اړیکه کې وو ترسره شوې دي. همدا راز د هغو **۲** تنو سره هم مرکې شوې دي چې د شخړې په اوارۍ کې د منځګړي اویا هم مرسته کونکي و **۱۴** نور مرکه کوونکې دولتی چارواکي وو، په دې توګه د **۲۰۱۸**م کال تر جون میاشت پورې ددې څېړنی د بشپړولو په خاطر **۸۵** مرکې ترسره شوې دي.[1]

---

۱ د میتودولوژۍ(څېړندود) په اړه د نورو معلوماتو له پاره دې «په افغانستان کې د کوچیانو- دسیمې د اوسېدونکو ترمینځ د شخړو څیړنه" (کابل: افغانستان. څېړنی او ارزونی اداره، د ۲۰۱۷ میلادی وکتل شي. د میتودولوژی پوره بحث او د مرکې کولو د پروسې تفصیلي تشریح به په هغه څېړنیزه مقاله کې خپره شي چې په ۲۰۱۹م. کال کې به ددې څېړنیزو مقاله د لړۍ پایلې روښانه کړي.

# د تاریخ په بهیر کې د دولت ونډه

د ۱۹۷۸م کال مخکې چې جګړې پیل او ترنن ورځ یې دوام کړی دی، د کوچیانو ځینې ډلو په ټول افغانستان او حتی د سرحد اخوا پاکستان (پرته له هغو وختونو چې د ډېر مودې لپاره به د افغانستان او پاکستان سرحد تړل کېده) ته په فصلي بڼه نقل مکان کاوه.[2] د ۱۹۷۸ او کلونو په اساسی قانونونو کې څړځایونه یوازی دولتی مځکې تعریف شوي وې، اما د یوڅه مودې وروسته دواړه قانونونه لغو شول د ۱۹۲۰ او ۱۹۷۰م کلونو قانونونو څړځایونه د عامه ملکیت په توګه تعریف کړي دي ددې کلونو په اړوند د کوچېانو ترمنځ نه یوازې ددې ډلی ترمنځ ځانګړې نوستالوژي چی ګویا هغه مهال د هغوی تاوتریخوالی په اغیزمنه بڼه مدیریت کاوه شتون لري.[3] په دې توګه هغه نقش چې د افغانستان دولت د ۱۹۷۸م کال مخکې د کړوالۍ په اړوند سره کړی دی یوڅه د بحث وړ دی. افغان دولت د څړځایونه د قانون سره یو ځای یو قانوني چوکاټ تصویب کړ تر څو د ولایاتو په کچه د ځمکو د چارو رئیسان او د سیمو په کچه د نوموړی سکتور مدیران مسولیت ولري چې د هغه انفاذ څخه څارنه وکړي او په خپل وار سره د کرنې مالدارۍ او اوبو لګونې وزارت ته ځواب ویونکي وي.[4] اما اوس مهال ددې قانون په باب پراخې نیوکې شتون لري ځکه چې په نوموړی قانون کې کلیوالی څرځایونه په پېچلې او مبهمه بڼه تعریف شوي دي. تر دې چې ځینې دولتی چارواکو هم په دې موضوع اعتراف لړلی دی.[5]

> که هغوی کلیوالي او عامه څرځایونه په دقیقه توګه تعریف کړي وای نن ورځ به موږ د نیمو شخړو شاهدان و، او شخړې به هم آسانه اواري کېدې.[6]

د څړځای په قانون کې دوه ډوله بېل څرځایونه تعریف شوي دي: عامه څړځایونه او خصوصی څړځایونه. چې دویم ډول یې په انحصاری بڼه د نږدی ټولنو لپاره ځانګړئ شوی دي. د څړځای په قانون کې خصوصی څړځای داسې تعریف شوی دی: یو کس د کلي تر ټولو لري او اخری کور یا ځمکه کې ودرېږي او په لوړ آواز دې غږ وکړي تر هر ځایه چې دا غږ ورسید خصوصی یا خاص ځمکې یا څړځای دی.[7] اما عامه څړځایونه په ټولیزه توګه د هغو ساحو په بڼه تعریف شوي دي چې هر هغه څوک چې څاروي ولري (څاروي یې ته ضرورت ولري) ترې کار واخیستی شي (هغه څړځایونو پرته چې په سنتی بڼه او یا هم د سلطنتی فرمانونو له لارې د کوچیانو ځانګړو ټولنو ته ورکړ شوي وي، چې دا موضوع مخکنیو کلونو حتی د نولسمې پېړی وروستیو ته رسي) د ۱۹۷۸م کال جګړې د پیل څخه وروسته په افغانستان کې چې د ټولنیزو، سیاسی، دموګرافیکی (بشری) بدلونونه منځته راغلي دي ددې کلتوری او سلطنتي فرمانونو په ځای والی او سموالی په پراخه کچه تر سوال لاندې راغلی دی.

که څه هم حکومتي چارواکي هغه سیستم چې د ۱۹۷۸م کال د مخه شتون درلود په برالا تر نیولولاندی نه نیسی اما لیدل کېږي د څرځایونو د قانون دا ډول ابهام مخکنیو شخړو یو لامل هم و. که څه هم د کوچیانو او ځایي اوسېدونکو ترمنځ د تاوتریخوالي ډکې شخړې د امیر عبدالرحمان خان تر سلطنت وروسته او د ۱۹۷۸ م کال د جګړې تر پیل د مخه کمې وې اما بیا هم ځینې د نظر اختلاف او جنجالونو منځته راغلی دي. د کوچیانو او ځایي اوسېدونکو ترمنځ لانجې به پولیسو، ولسوالۍ او ولایتي والیانو ته او کله ناکله به محکمو ته هم راجع کېدې، خو د قضیو د ښکېلو غاړو سره دا تمه کمه وه چې دولت به د هغوی ستونزی حل کړي. ډېر وختونه داسې ښکارېده چې دولت هڅه کوي له سیمه ییزو لانجو څخه ځان لرې وساتي، تر هغې چې لانجې به په تاوتریخوالي واوښتې. ځایي اوسېدونکي، په ځانګړې توګه هزاره‌ګان نن ورځ په دې نظر دی چې، دوی به داسې احساسوله چې دولت به تر ډېره د کوچیانو پلوې

---

۲ د پولې بندېدو د اغېز په اړه دې د لویس دوپری «Pashtunistan»، دویمه برخه، د AUFS د رپوټونو برخه، د جنوبي آسیا **۵** لړۍ، **۳**مه شمېره (**۱۹۲۱**م.) وکتل شي.

۳ په فراه ولایت کې د قومي مشر (ام.آی.بی) سره مرکه (لیکوال د ځینو نومونو لپاره مخففات کارولی)، د ۲۰۱۷ م. کال جون میاشت؛ په فراه ولایت کې له کوچي مشر (ایس.ای.ان) سره مرکه، د ۲۰۱۷ م. کال جون میاشت؛ په فراه ولایت کې د نورزي قبیلې د میشت مشر (ان.ان.ان) سره مرکه. په فراه ولایت کې له قومي مشر او کوچي (آی.بي) سره مرکه، د ۲۰۱۷ م. کال جون میاشت؛ په فراه ولایت کې له قومي مشر (ام.کا.بی) سره مرکه، د ۲۰۱۷ م. کال جون میاشت؛ د کوچیانو د خپلواک ریاست له سلاکار سره مرکه، د ۲۰۱۷ م. کال اکتوبر میاشت.

۴ د کوچیانو د خپلواک ریاست له سلاکار سره مرکه، د ۲۰۱۷م. کال اکتوبر میاشت.

**۵** په خوست ولایت کې د کوچیانو د ریاست له یو کارکوونکي سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال فبروری میاشت؛ د فراه ولایت د کوچیانو رئیس، انجینیر فضل احمد نورزي سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال فبروری میاشت؛ د کوچیانو په ریاست کې د جرګو او اقتصاد څانګې مشر زمرد خان منګل سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال مارچ میاشت؛ د کوچیانو د خپلواک ریاست له سلاکار سره مرکه، د ۲۰۱۷م. کال اکتوبر میاشت؛ د کندز ولایت د کوچیانو رئیس بارکزي مخلصیار سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال فبروری میاشت.

۶ په لوګر ولایت کې د کوچیانو رئیس موسی پوپل سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال فبروری میاشت.

۷ کونور فولي، په افغانستان کې د شتمنۍ د قانون لارښود (NRC/UNHCR, **۲۰۰۵**)

کولي او کله کله به یې د ځایي اوسېدونکو شکایتونه جدي نیول.[۸] تر کومه ځایه چې ددې ادعاوو خبره ده، په تاریخي توګه اسناد واضح نه دي؛ داسې شواهد هم شته چې ښیي کله کله به دولت څنګه د کوچیانو په مقابل کې د ځایي اوسېدونکو ملاتړ کاوه.[۹] داسې ښکاري چې اوس حالت بدل شوی. له ۱۹۸۰مو کلونو راپدېخوا، د ځایي اوسېدونکو یو شمېر ډلې، په ځانګړې توګه هزاره‌ګان ډېر متشدد شول او د تاوتریخوالي پېښې ، په ځانګړې توګه په هزاره جاتو کې پیل شوې.

د ۱۹۷۱م کال د څرځایونو قانون یو بل ضمني محدودیت دا و چې د اوسېدو ځایونه د څرځایونو په طرف پراخېدل. د «عامه ځمکې» په توګه د عامه څرځایونو او د شاهي فرمان ترمنځ په تعریف کې دا ټکر چې یو شمېر ځانګړی څرځایونه د کوچیانو یو شمېر ډلو ته سپارلي دی، چې دا به بالآخره د افغانستان اداري بیا ځلي له ستونزو سره مخ کړي.[۱۰]

داسې ښېې-ښباني لیدل کېږي چې وښیي د افغانستان حکومت دې ۱۹۷۸مو کلونو وړاندې حکومتونو په پرتله د کوچیتوب د مسئلې په حلولو کې یو څه ونډه اخیستې وه. د دې پروژې د مرکه شویو کسانو له ډلې هیڅ کوچي او ځایي اوسېدونکي د [کوچیتوب د حل] په مسأله کې د دولت ونډې په اړوند څه په یاد نه لري او هم یې د چا نه څه نه دې اوریدلي. که څّه هم ځینو مرکه شویو کسانو دې ته اشاره کړې چې دولت د کوچیانو له پاره د کوچېدو مهالوېشونه جوړ کړي (چې په هغه حالت کې یوازې د حاصل ټولولو وروسته نویو ساحو ته داخلېدای شي)،[۱۱] خو ځینو نورو دا وړاندیز رد کړی او ټینګار یې کړی دی، چې مهالوېشونه په خپله د کوچیانو له لوري جوړېدل[۱۲]. د هزاره قوم یوه مشر وویل چې یوازې ځینې کوچي قبیلو (تر ټولو کمزورو ) د مهالوېشونو په اړه بحث کړی او منلي یې دي، ځکه دوی له ځایي اوسېدونکو سره د مقابلې قدرت نه درلود.[۱۳]

۸ د ناور له هزاره وګړي سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال  مې میاشت اتمه؛ د بامیان ولایت له هزاره مشر سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال مې میاشت؛ د دایکندي ولایت له هزاره مشر سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال جون میاشت؛

۹ د بیلګې په ډول، لویس دوپري "The Green and the Black" AUFS Reports Service, South Asia Series, ۷ no. ۵: ۱۲, ۱۹۲۳.

۱۰ د بامیان ولایت د ورس ولسوالۍ له هزاره مشر سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال مې میاشت.

۱۱ د میدان وردکو ولایت د الله دین خیلو سیمې له کوچي مشر سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال مې میاشت؛ په فراه ولایت کې د نورزي قبیلې د میشت مشرانو سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال جون میاشت؛ په لوګر ولایت کې د کوچیانو رئیس موسی پوپل سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال فبروری میاشت.

۱۲ د میدان وردکو له کوچي مشر ای.جی. اوسان خیل سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال مې میاشت؛ د بهسودو د دایمیرداد له یو ډله هزاره وو سره مرکه، کابل، د ۲۰۱۸ م. کال مې میاشت؛ د ورس ولسوالۍ له هزاره مشر حاجي (اچ.ای) سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال مې میاشت؛ د بامیان د پنج آب ولسوالی له حاجی (آر.ای. ) سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال مې میاشت؛ د دایکندي ولایت له هزاره مشر (جی.اچ. ) سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال جون میاشت.

۱۳ د ناور له هزاره وګړي سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال مې میاشت.

# د افغان دولت اوسني ونډو جوړښتونه او قانونونه

اوسنی جوړښت تر جګړې پخوا جوړښت سره توپیر لري ځکه چې په اوسني دولتی جوړښت کې په ۲۰۰۷م کال د کوچیانو خپلواک ریاست په دې موخه رامنځته شوی چې د کوچیانو او ځایي اوسېدونکو ترمنځ راپورته شوې لانجې او شخړې وارزوي او بیا یې د نورو رسمي اجراآتو له پاره والیانو او نورو حکومتي ادارو او وزارتونو ته واستوي. د ۲۰۱۸م کال تر لومړیو پورې دې ریاست د ټول هېواد په کچه ۳۷۳ کار کوونکوي درلودل. اما دا ریاست کافی سرچینې به واک کې نه لري غیر له دې چې له کوچیانو او ځایي اوسېدونکو سره د کتو او د خبرو پرته کوم بل کار تر سره کړي[۱۴]. دا ریاست د ولایتي ادارو او شاوخوا ۳۰۰۰ مقرر کړای شویو سرخېلو مشرانو له لارې له کوچیانو سره اړیکي نیسي. دا کسان هر یو یې د کوچیانو څخه د ۲۰۰ تذکرو د راټولو له لارې هر کال په ټاکنو کې برخه واخلي.[۱۵] د کوچیانو په ریاست سربېره، د کرنې وزارت هم د څړځایونو د مدیریت مسئول دی او د کوچیانو له پاره یو ریاست لري.[۱۶]

د ۲۰۰۱م کال وروسته او هغسې چې لیز آلډین ویلي یې «ګونګ حالت» بولي، د څړځایونو مسئله لا هم د یوې ستونزې په توګه پاتې ده.[۱۷] د کرنې وزارت چارواکي د ۱۹۷۱م کال د څړځایونو قانون د خپلو کړنو له پاره بنسټ بولي. په وزارت کې د کوچیانو د څانګې یو چارواکی وایي: «د څړځایونو د قانون له مخې، څړځایونه په دولت پورې اړه لري او هر هغه ښاروند چې یو پسه هم ولري ترې کار اخیستی شی.»[۱۸]

د ۲۰۰۱م کال وروسته خپله د افغانستان حکومت په خپله خصوصی، عامه او دولتی څړځایونو سره په ښکاره توګه ډېر سطحي چلند کړی. د ۲۰۱۰م کال په شاوخوا کې ځایي اوسېدونکو او ځینو بهرنیو څارونکو داسې احساسوله چې کوچي پلوه ډلو لا هم د پالیسیو د متأثر کولو هڅه کوله او غواړي چې د څړځایونو قانون د دوی ګټې خوندي کړي.[۱۹] دا د څړځایونو نوی قانون لا هم د یوې نابشپړ شوې مسودې په شکل پروت دی، د هرې ډلې پلویان پرې خپل مشخص ملاحظات لري او د دې نظرونو ترمنځ همغږي رامنځته کول ګران ښکاري.[۲۰]

په عملي ډګر کې کوچیان او هم ځایي اوسېدونکي تر ډېره څړځایونه «خپل» ګڼي (د دې خبرې په مقابل کې دولت وایي چې څړځایونه د دولت ملکیت دی. ) ځایي اوسېدونکي څړځایونو ته د دوی د اوسېدنی د جغرافیایي نږدېوالي له امله دا دعوه کوي. په مقابل کې بیا کوچیان له دې امله دا دعوه کوي چې دوی تر جګړو د مخه خپل څاروي او رمې په دغو څړځایونو کې څرولې. کله کله به یو نیم معمول جوړجاړی هم کېده (عموماً شاهي فرمانونو له لارې چې مخکې یې یادونه وشوه ) چې د هغو په اساس د مثال په توګه، مختلفو کوچي قبایلو د خپلې مهاجرتي نقشې له مخې خپل موقتي مېشتځایونه په تېرو سره په نښه کول.[۲۱]

د ملکیت ثابتولو دا ډول دعوې په ډېرو ځایونو کې د کوچیانو ناقانونه د مېشتېدنې او ترڅنګ یې دا امر د هغو څړځایونو څخه د کوچیانو او ځایي اوسېدونکو د استفادې لامل شوی چې پخوا به نورو خلکو ترې استفاده کوله، خو اوس هغوی ته د کارولو اجازه نه ورکول کېږي. سره له دې چې په عامه څړځایونو کې مېشتېدنه په ښکاره توګه غیر قانوني ده، د رمو څرولو حق لا ډېره مغلقه مسئله ده. که له یوې خوا ویل کېږي چې عامه څړځایونه د ټولو رمه لرونکو د استفادې له پاره دي، له بلې خوا لکه څرنګه چې وویل شول، د شاهي فرمانونو له مخې یو شمېر څړځایونه مشخصو کوچي قبیلو ته په پام کې نیول شوي و.[۲۲]

د یوه کلي له حدودو څخه دباندې یو څو نوي کورونه جوړول د هغه کلي څړځایونه هم د عامه څړځایونو د رالاندې کېدو په قیمت څو سوه متره نور غځېدای شي. په حقیقت کې، د مرکزي سیمو په لوړو ځایونو کې مېشت هزاره ځایي اوسېدونکو پر کلیوالي څړځایونو د خپل حق ثابتولو غوښتنه کړې چې د دوی په وینا تر جګړې د مخه له پامه غورځول شوې و. دا چې نوي هزاره مېشتځایونه پراخ شول او لږه موجوده ځمکه د دوی له پاره کافي نه وه، د هغې ځمکې ډېره برخه چې عامه څړځایونه بلل کېدل، اوس په تخنیکي لحاظ کلیوالي څړځایونه دي. که څه هم ځایي اوسېدونکي وېره لري چې کوچیان به د دوی زاړه څړځایونه ترې تر لاسه کړي چې اوس یې نور

۱۴ په لوګر ولایت کې د کوچیانو رئیس موسی پوپل سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال فبروری میاشت.

۱۵ د کوچیانو په ریاست کې د جرګو او اقتصاد څانګې مشر زمرد خان منګل سره مرکه، د ۲۰۱۸ م کال مارچ میاشت؛ د کوچیانو د خپلواک ریاست له سلاکار سره مرکه، د ۲۰۱۷ م. کال اکتوبر میاشت.

۱۶ د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت د اوبو رسونې برخې د متخصص انجینیر میرخېل سره مرکه، د ۲۰۱۷ م. کال اکتوبر میاشت.

۱۷ لیز آلډین ویلي، د څړځایونو پر سر جګړې: په افغانستان کې پټې جګړې: ۲۰۰۳: پانه ۱۳۳.

۱۸ په کابل کې د څړځایونه د څانګې له کارمند سره مرکه، د ۲۰۱۷ م. کال سپټمبر میاشت.

۱۹ ویلي، د څړځایونو پر سر جګړې.

۲۰ په کابل کې د کوچیانو د خپلواک ریاست له مشر فیضان سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال می میاشت.

۲۱ د میدان وردګو له کوچي مشر (ای جی ) حسین خیل سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال می میاشت.

۲۲ د میدان وردګو له کوچي مشر (ا.ج. ) حسین خیل سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال می میاشت.

خلک استعمالوي.[۲۳] ښايي ځايي اوسېدونکي دا دعوه هم وکړي چې د دوی کليو ته نږدې عامه څړځايونه د دوی د څارويو له پاره دي، په ځانګړې توګه بيا چې ډېر څاروي ولري. په ورستيو کلونو کې د افغانستان په ځينو سيمو، لکه هزاره‌جاتو کې ځايي اوسېدونکو په ډراماتيکه توګه د خپلو څارويو شمېر زيات کړی تر څو د خورا بيوزله سيمه ييز اقتصاد بڼه بدله کړي.[۲۴]

هغه قانوني او معمول کاري چوکاټ چې تر جګړې دمخه پرې عمل کېده، ورو-ورو خپل ارزښت له لاسه ورکوي او دا چې د مختلفو ټولنو ترمنځ يې نابرابری اړيکي رامنځته کړي، اصلاً داسې نه ښکاري چې بېرته راژوندی شي. هغسې چې لاندې بحث شوی، دا کاري چوکاټ بايد نور بدل کړای شي. د دولت د پلويانو او د څړځايونو د مديريتي ټولنو ترمنځ هم بحثونه او شننې شته.[۲۵] په عمل کې، د څړځايونو مديريتي ټولنې چې په ۱۹۷۸ کال کې رامنځته شوې وې، د دولت په ملاتړ ډاډه وې او دا خبره لا ښکاره نه ده چې ټولې ټولنې په مساويانه توګه پکې دخيلې وې که نه. په حقيقت کې له ټولو هزاره ځايي اوسېدونکو سره مرکې وشوې، د بېلګې په توګه، دوی دا ردوله چې د مهالوېشونو او لارو په اړه ورسره سلا مشوره شوې. که له يوې خوا د دولت ملاتړ هر وخت اړين و. له بلې خوا، تر جګړې دمخه به د افغانستان دولت قوانين، هم د سيمه‌ييزو چارواکو او هم د ټولنو له لوري له پامه غورځول کېدل. نه يوازې دا چې معمول فعاليتونه له ملي قوانينو سره په ټکر کې وو، بلکې دا هم عام و چې له سيمه‌ييزو چارواکو سره خپلسري رسمي تړونونه او د امتيازاتو پر سر بحثونه وشي چې په حقيقت کې له ملي قوانينو سره په ټکر کې وو.[۲۶]

۲۳ د کوچی او هزاره وګړو د شخړو د حل د کميسيون له غړي سره مرکه، د ۲۰۱۲ م. کال ډسمپر مياشت.

۲۴ د ورس ولسوالۍ له هزاره مشر حاجي (چ. ا.) سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال مې ماشت؛ د دايکندي ولايت له هزاره مشر (جي.ايچ.) سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال جون مياشت.

۲۵ ډيوېډ ستېنفيلډ او نورو. د شخړو له دورې مخکې د ځمکو مديريت، د افغانستان مورد.

in Innovations in Land Rights Recognition, Administration, and Governance, ed. Klaus Deininger et al. (World Bank, ۲۰۱۰).

۲۶ ويلي، د څړځايونو پر سر شخړې.

## د دولت ونډه د حَکَم په توګه

له ۱۹۷۸م کال څخه مخکې او ۲۰۰۱م کال څخه وروسته د چاپریالونو ترمنځ توپیر په دې کې دی چې د ۲۰۰۱م میلادی کال څخه وروسته په لیرې پرتو سیمو کې د دولت شتون او د هغوی ځواک په قسمي توګه له منځه تللی او داسې یو حالت یې رامنځته شوی چې پټې شخړې پکې بې مهاره او بې واکه پاتې شوې دي. د پاملرنې وړ خبره دا ده چې له نومړو شخړو څخه ځینې یې آن څو کاله غځېدلې او د مقابل لوریو څخه هر یو یې ادعا کوي چې دوی له متنازع ځمکو څخه په ځانګړې ډول د کار اخیستلو حق لري.[۲۷]

په حقیقت کې د دولت د کمی لاسرسی موضوع د ستونزې یو اړخ دی. لکه یو دولتي چارواکي چې وویل، چې آن د دولت تر واک لاندې سیمو کې هم دولتي بنسټونه د مرستې کولو قدرت نه لري او یا دا کار کول نه غواړي. په داسې مواردو کې شونی ده چې سیمه ایز ځورواکې د دولت چارواکي و ننګوي.

ټول کوچي او سیمه ییز اوسېدونکی چې مرکه ورسره شوی دولت ته د دواړو لوریو تر منځ د ستونزو د حل په موخه د غوتې په توګه ګوري چې نشي کولای د ښکېلو لوریو د ستونزو په اړوند ټولیز ګامونه واخلي.

د نومړې پروژې د موضوع اړوند ځلوېښتو کوچیانو او میشت وګړو په خپلو مرکو کې په حیرانوونکي توګه په شخړو او د هغوی په حل کې د چارواکو د ښکیلتیا په اړوند یو ډول ځواب درلود (جدول وګورئ).[۲۸] د کوچیانو او میشتو وګرو دواړو څخه ۴۰ سلنه یادونه وکړه چې د شخړو په برخه کې یې له چارواکو څخه د مرستې غوښتنه کړې ده، خو هیڅا هم د چارواکو د مرستې کومه بیلګه وړاندې نه کړه. ځینې دولتي چارواکو د دریمې ډلې پر منځګړیتوب،[۲۹]د کوچیانو د ستونزو د حل په برخه کې د بریا ادعا وکړه. سره له دې ډیر دولتي چارواکي په دې برخه کې د دولت د کمزوریو یو تیاره انځور مني. خو وایی چې چارواکو د څارویو د ولجه کولو او فصلونو ته د اوښتو محدودو زیانونو ځینې کوچنۍ شخړې یې حل و فصل کړي.[۳۰]

بهرنۍ کړۍ هم د دولت کم او ناڅیزه ونډه مني.[۳۱] له ۲۰۰۷م کال راهیسې د کوچیانو خپلواک ریاست یو له هغه فعالو دولتي ادارو څخه شمېرل کېږي چې د کوچي او میشتو وګړو له شخړو سره سروکار لري، خو د دوی ونډّ یوازې څارنه، راپور ورکول او نورې دولتي ادارې د موضوع په اړوند خبرول دي. په نومړې ریاست کې چارواکي ډیری وختونه د دولت د ادارو لکه کرنې وزارت، پولیس، د اراضۍ ادارې، ښوونې او روزنې او ثبت احوال نفوس ادارو څخه شکایت کوي چې ګویا د هغوی غوښتنو ته ځواب نه ورکوي.[۳۲]

د دې بی باوریو سره سره هم دولتي ادارې د شخړو پر مهال د مرستې غوښتلو یوازینۍ سرچینه پاتې شوې ده:

> د هر څه نه مخکې هڅه کوو چې د دولت له لارې خپلې شخړې حل کړو ، کله چې دولت زمونږ د شخړو په حل کولو پاتې راشي نو بیا سیمه ییزو خلکو ته مراجعه کوو.[۳۳]

دولتي چارواکي دا مني او لږ تر لږه په خوله هم اقرار کوي چې هغوی باید د شخړو د حل په برخه کې لا ډیر کار وکړي.[۳۴] ځینې وختونه د شخړو د پای ته رسیدو په موخه هغوی د وسله وال ځواک د کارولو غوښتنه هم کوي.[۳۵] په دولت باندې د ټولو نیوکو او د بیلو ډلو له خوا د هغوی په چارو کې لاسوهنه سره سره بیا هم د کوچیانو تر منځ یوه هیله شته چې چارواکي باید د کوچیانو لپاره څرځایونه پیدا او بیا هغه مدیریت او وساتي.[۳۶]

---

۲۷ د لوګر په ولایت کې د عبدالرحیمزی قبیلې له مشر سره مرکه، د ۲۰۱۲ م کال ډسمبر میاشت.

۲۸ د لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست له مشر موسی پوپل سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. فبروری میاشت؛ د کوچیانو د خپلواک ریاست له مشاور سره مرکه، د ۲۰۱۷ م. اکتوبر میاشت.

۲۹ د فراه ولایت د کوچیانو رئیس، انجینیر فضل احمد نورزي سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال فبروری میاشت.

۳۰ دلوګرپه‌ولایت‌کې‌دکوچیانو‌دریاست‌له‌مشر‌موسی‌پوپل‌سره‌مرکه، د ۲۰۱۸ م‌فبروری‌میاشت؛ دکوچیانو‌د‌خپلواک‌ریاست‌له‌مشاور‌سره‌مرکه، د ۲۰۱۷ م‌اکتوبر‌میاشت.

۳۱ د حاجي محمد رحیم تره خیل، د هغه یوه دوست (ن.دې)، دستیارانو او دهغه د یوه مشخصي سلاکار سره مرکه، د عبدالمبین بیک او دهغه دیوه نږدې دوست سره مرکه او د عبدالروف ابراهیمی د سکرتر سره مرکه.

۳۲ د خوست په ولایت کې د کوچیانو د چارو د انسجام خپلواک عمومی ریاست د یوه لوړ پوړي کارکونکي سره مرکه. د ۲۰۱۸ م کال فبروری میاشت، په فراه ولایت کې د کوچیانو د رئیس انجینیر فضل احمد نوروزی سره مرکه ۲۰۱۸ م. کال فبروری میاشت. د کندز ولایت د کوچیانو د رئیس بارکزي مخلصیار سره مرکه.

۳۳ په فراه ولایت کې د قومی مشر (ام.آی.بی) سره مرکه، ۲۰۱۷ م. کال جون میاشت.

۳۴ د لوګر ولایت د کوچیانو رئیس موسی پوپل سره مرکه، ۲۰۱۸ م. کال فبروری میاشت. د خوست ولایت د کوچیانو د چارو و د انسجام خپلواک عمومی ریاست د لوړ پوړي کارکونکي سره مرکه ۲۰۱۸ م کال فبروری میاشت.

۳۵ د میدان وردک د ولایت د کوچیانو د چارو د انسجام خپلواک عمومی ریاست د رئیس محمد همایون عزیزی سره مرکه ۲۰۱۸ م کال فبروری میاشت.

۳۶ په فراه ولایت کې د قومی مشر ام.آی.بی سره مرکه، ۲۰۱۷ م. کال جون میاشت.

له هر څه وړاندې باید د کوچیانو لپاره ځرځایونه جوړ کړل شي. دوهم، دولت باید د کوچیانو لپاره مهال ویش جوړ کړي تر څو هغوی د خلکو فصلونو ته زیان و نه رسوي. دریم، د کوچیانو لوی ځرځای هزاره جات دي او دولت باید هلته د ځایي خلکو سره د کوچیانو شخړې حل کړي.[۳۷]

کوچي او میشت مرکه کوونکي وګړي ممکن د شخړو د حل په برخه کې د دولت ونډې ته په کم نظر وګوري. دولتي بنسټونه بیا د شخړو د حل لپاره دریم منځګړی څخه (لکه د کوچیانو ریاست او نورو) کار اخلي. د کوچیانو ریاست بیا له دې امله له مستقیمې ښکیلتیا څخه ځان ساتي چې میشت وګړي به یې د کوچیانو په پلوۍ تورن کړي.[۳۸]

د سفر او ناستو ټول لګښتونه د کوچیانو د سیمه ییز دفتر د مشر انجینیر فضل احمد نورزي له خوا ورکړل شوي و. د کوچیانو د چارو د ټولنې خپلواک عمومي ریاست د ریاست ځانګې د لیږد رالیږد او د خوراک د تنظیم دنده درلوده ... هغوی خپل کار په عالي بڼه ترسره کړی و..[۳۹]

په دې ټوګه، زمونږ موندنې د کوبرن (Coburn) د مقالې د موندنو سره ورته دي چې ۲۰۱۱ میلادی کال کې خپره شوي و.[۴۰]

له مرکه کوونکو څخه یو هم اعتراف و نه کړ چې ګوندې له حکومت پرته یې له بل چا څخه د شخړې د حل لپاره د مرستې غوښتلو لټه کړې ده په داسې حال کې چې خپل مقابل لوری یې د داسې کار په کولو تورن کاوه. د مرکه کوونکو سره دا وېره په ډاګه لیدل کېده چې که د غیر دولتي چارواکو لکه جنګسالارانو، بلواګرو او نورو ته د خپلې شخړې په خاطر مراجعه وکړي، ممکن شخړه یې خپل قانوني حیثیت له لاسه ورکړي.

د غیر دولتي سرچینو څخه د منځګړیتوب په برخه کې د مرکه کوونکو ترمنځ یو څه توپیر شتون درلود. ۸۰ سلنه کوچي وګړو ویل چې دوی د منځګړیتوب غوښتنه او لټه کړې ده که څه هم په دې برخه کې د دوی بریا محدوده وه او یوازې د څلورو برخو څخه یوې برخې مرکه کوونکو وویل چې د منځګړیتوب له لارې دوی څه نا څه لاس ته راوړنه درلوده. په مقابل کې یې میشتو وګړو وویل چې دوی په ۲۰ سلنه مواردو کې د غیر دولتي سرچینو منځګړیتوب ته مخه کړې ده او په اوسط ډول یې په دې برخه کې یې د کوچیانو په پرتله د منځګړیتوب له لارې د شخړو په حل کې یو څه تر لاسه کړي دي. له دوی څخه نیمایي یې په دې برخه کې د مثبتو پایلو د ترلاسه کولو نظر درلود.

کله چې د ګاونډیو ټولنو له لوري د منځګړیتوب خبره مطرح کیږي، ښايي سیمه ییز چارواکي د هر ډول هوکړې په عملي کېدو کې په ښه توګه د تضمین ورکوونکو ونډه ادا کړای شي.[۴۱] د چارواکو له لوري پر غیر دولتي کړیو د بې‌باورۍ یو دلیل دا دی چې په دې کار سره کېدای شي لانجو کې ښکېل لوري د دولت ونډه بېخي له پامه وغورځوي، لکه څرنګه په سروې کې چې ورته اشاره شوې. په بله معنی، په ځینو مواردو کې دولت د خپل مشروعیت د ځواکمنتیا په برخه کې هیڅ مثبتې لاسته راوړنې نه لري. یو بل خنډ دا دی چې هره ترلاسه شوې هوکړه ښايي د دولت له ملاتړ څخه پرته به ډېر دوام ونه کړي:

> یو ځل موږ له نورو قبایلي شوراګانو سره په ګډه د دواړو ښکېلو ډلو ترمنځ یوې مشروطې هوکړې ته ورسېدو، خو ډېر دوام یې ونه کړ، یوه میاشت وروسته له منځه ولاړه او هیڅ لوري و نه منله. [...] په دې شخړه کې یوې باثباته او دوامداره هوکړې ته د نه رسېدو عمده دلیل دا دی چې د شخړې تر شا د یو شمېر باندنیو کړیو او حکومتي چارواکي لاس لري.....[۴۲]

بالآخره، سیمه‌ییز منځګړي ښایي بې‌طرفه نه وي:

> په ټولیزه توګه، زه فکر کوم د حکومت منځګړیتوب اړین دی، ځکه چې که موږ ګاونډیو قبایلو ته د منځګړیتوب فرصت ورکړو، ښکاره خبره ده چې دوی به په دا ډول شخړو کې د ښکېلو لورو په اړه بې‌طرفه پاتې نه شي.[۴۳]

---

۳۷ په فراه ولایت کې د نورزیو قوم سیمه ییز مشران (ان.ان) سره مرکه، د ۲۰۱۷ م کال جون میاشت.

۳۸ د لوګر ولایت د کوچیانو د رئیس د موسی پوپل سره مرکه ۲۰۱۸م. کال فبروری میاشت؛ د خوست ولایت د کوچیانو د چارو د انسجام خپلواک عمومي ریاست د لوړ پوړی کارکونکي سره مرکه ۲۰۱۸ م کال فبروري میاشت؛ د فراه ولایت د کوچیانو د رئیس انجینیر فضل احمد نوروزی سره مرکه، ۲۰۱۸ م کال فبروری میاشت؛ د کندز ولایت د کوچیانو د رئیس بارکزی مخلصیار سره مرکه، ۲۰۱۸ م. کال فبروری میاشت. د ولسی جرګې د اقتصادی کمیټې د رئیس زمرد خان منګل سره په کابل کې مرکه؛ د کوچیانو د چارو د انسجام خپلواک عمومی ریاست کې مرکه، ۲۰۱۸ م کال مارچ میاشت؛ په فراه ولایت کې بارکزیو د سیمې رئیس او مشر (ملک) (ام.ډي.بي) سره مرکه.

۳۹ د فراه د علماوو په شورا کې د منځګړي مولوي عبدالرحمن سره مرکه، ۲۰۱۸ م کال اپریل میاشت.

۴۰ سیاست په شخړو کې په افغانستان کې د بی ثباتی د بدلون او دوام. نوح کوبرن، واشنګتن: د امریکا دمتحده ایالاتو د سولی انسټیټوټ. ۲۰۱۱ م. کال.

۴۱ له ښاغلي امیري سره مرکه، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت، کابل، د ۲۰۱۸ م. می میاشت؛ په خوست ولایت کې د یوې هوکړې په اړه بحث.

۴۲ له ملک حیدر ګل منګل سره مرکه، خوست ولایت، منځګړی، اپرېل ۲۰۱۸.

۴۳ له ا ه ن سره مرکه، په خوست ولایت کې د نیازي کوچیانو د ټبر مشر، لکنو سیمه، د ۲۰۱۸ م. می میاشت.

د سیمه ییزو منځګړو د تنظیمولو سرببره، دولت له ۲۰۰۱ کال راهیسې له مرکزه یو شمېر هیئتونه او کمېسونونه رالېږلي دي. چې معمولاً د هغه په منځ کې د سیاسي جریانونو او په شخړو کې د ښکېلو مختلفو ټولنو استازي شتون لري. (دا فکر کېږي) زموږ کوچي او ځايي مرکه شوي کسان د دې خبرې په اړه یوه خوله وو چې د مرکزي حکومت له لوري د ستونزې د ارزونې په موخه له مرکزه رالېږل شويو کمېسونونو په دوامداره توګه په شخړو کې لاسوهنه کړې (له دواړو ډلو **۲۵٪** خلکو په دې اړه مثبت ځواب ورکړی و.) البته د مختلفو کمېسونونو په کاري تګلارو کې لږه پیمانه توپیر شتون درلود، داسې چې **۴۰٪** ځايي اوسیدونکي او **۲۰٪** کوچي مرکه شويو کسانو (چې د کمېسونونو د لاسوهنې په اړه یې هو ! ځواب ورکړی و) ویل چې مثبتې پایلې یې هم لیدلې. په ټوله کې، د یوې پایلې په توګه، د دې ډول کمېسونونو او هیئتونو اغېز تقریباً بې ارزښته و:

> حکومت یو په بل پسې هیئتونه رالېږي، خو پرېکړې او هوکړې نه پلې کیږي.[44]

د شخړو او لانجو د هوارولو وړتیا نه درلودل د دولت مشروعیت کمزوری کوي، لکه مخکې چې وویل شول. دا شمېرې یو معیار دی چې له مخې یې په شخړو کې ښکېل ځايي اوسېدونکي او کوچیان دا مني چې د مرستې په موخه یې سیاسیونو او بانفوذه خلکو ته مستقیمه مراجعه کړې (۷۰ او **۷۵** فیصده خلکو په ترتیب سره) او په دې توګه یې د دوی له لارې مرکزي چارواکو ته خپلې ستونزې رسولې.

د دولت په اړه د وګړو دا ذهنیت چې په شخړو کې به بې طرفه نه پاتې کیږي، د دولت مشروعیت ته یوه بله ضربه ده. له هغه مهاله چې ډېرو مرکه شویو کسانو د دوی په لانجو او شخړو کې د دولت د لاس وهنې محدودې پایلې ولیدلې، ډېر وخت به یې د دولت د بې‌طرفۍ په اړه خپل نظر نه څرګنداوه. یوازې **۲۰٪** ځايي اوسېدونکي او **۱۵٪** کوچیان په دې باور وو چې دولت د دوی د مخالفې ډلې پلوي کوله. له مرکو جوتېږي چې حتا په دولتي دستګاه کې هم د کوچیانو او هم لږ تر لږه د ځايي اوسېدونکو د یو شمېر ډلو، لکه هزاره‌ګانو په اړه قوي تعصب پالل کیږي. د بېلګې په توګه، یوه حکومتي چارواکي ومنله چې په افغان ملي پولیسو او افغان سیمه ییز پولیسو کې کوچیانو ته د شک په نظر کتل کېږي او په اړه یې دا باور دی چې دوی له ترهګرو سره اړیکې لري. یو بله تازه بېلګه هغه ادعاوې دي چې ایران د هزاره‌ګانو ملاتړ کوي. په حکومت کې د شته هزاره چارواکو په اړه هم ویل کیږي چې تل د خپلو ځايي هزاره‌ګانو ملاتړ کوي.[45] دا ببخي ښکاره ده چې د حکومتي چارواکو په اړه دا ډول تورونه د افغانستان دولت حیثیت ته زیان رسوي.

جدول: د کوچیانو - ځايي اوسیدونکو په شخړو کې د ملاتړي سرچینو او منځګړیو د ونډې ارزونه، د پروژې د مرکه شویو کسانو له نظره (په سلنې)

| | ځايي اوسیدونکي | کوچیان | ټول |
|---|---|---|---|
| حکومت ته عارض شوي | ۴۰ | ۴۰ | ۴۰ |
| مثبتې پایلې | ۰ | ۰ | ۰ |
| سیاسیونو ته عارض شوي | ۷۵ | ۷۰ | ۷۲,۵ |
| مثبتې پایلې | ۳۰ | ۲۵ | ۲۷,۵ |
| باندنیو لورو ته عارض شوي | ۰ | ۰ | ۰ |
| مثبتې پایلې | ۰ | ۰ | ۰ |
| د منځګړیتوب غوښتونکي | ۲۰ | ۸۰ | ۷۰ |
| مثبتې پایلې | ۳۵ | ۲۰ | ۲۷,۵ |
| دخیلي کمېسون/ هیئت | ۲۵ | ۲۵ | ۲۵ |
| مثبتې پایلې | ۱۰ | ۵ | ۷,۵ |
| حکومت د یو طرفه په توګه | ۲۰ | ۱۵ | ۱۷,۵ |
| شمېر = | ۲۰ | ۲۰ | ۴۰ |

سرچینه: لیکوالان

[44] د هزاره-کوچي شخړو د سیمه‌ییزې شورا له یوه هزاره غړي سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال می میاشت.

[45] د لوګر په ولایت کې د کوچیانو د ریاست له مشر موسی پوپل سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال فبروری میاشت؛ په لوګر ولایت کې د کوچیانو د دفتر/ څانګې رئیس، د ۲۰۱۸ م. فبروري میاشت؛ له محمد همایون عزیزي سره مرکه، په وردګو کې د کوچیانو ریاست، د ۲۰۱۸ م. کال فبروري ماشت.

# په راتلونکي کې د دولت احتمالي رول

مصاحبه شویو تر ډیره دې موضوع ته هم اشاره کړې ده چې، د شخړو په اوارۍ کې د دولت د ناکامۍ په صورت کې به خلک د طالبانو څخه مرستې غوښتنه وکړي. اما کېدای شي دغه راز اشارې یو بې اساسه بنسټه او غیر جدی ګواښ وګڼل شي.[46]

> که شخړه کوچنۍ او د حقوقی مسایلو په اړوند وي نو بیا سیمه ییز او ټولنیز (منځګړې کولای شي د هغې لپاره د حل لاره ومومي، خو که شخړه پېچلې او لویه وي لکه د ځمکې پر اړوند ادعا او نور دا ډول موارد ، بیا مونږ د هغې لپاره جدي کړنې او کوټلې ګامونه اخلو (ټینګار).[47]

په حقیقت کې دا تورونه چې کوچیان او د سیمې اوسېدونکي د حکومت ضد وګرو څخه د مرستو غوښتونکي کیږي، د دی پروژې په بهیر کې څو واري لیدل شوی دي. په ځینو مواردو کې مرکه کوونکو خپله ادعا کړې چې په تیر وخت کې د شخړو د حل او یا د هغوی څخه د طرفدارۍ کولو لپاره یې د مخالفینو د مرستې تر لاسه کولو هڅه کړې ده. واقعیت دا دی چې طالبانو په دغه راز شخړو کې د ښکېلتیا په برخه بې علاقې و. ځکه هغوی په دې ښه پوهیدل چې په دغه راز شخړو کې ګډ شي د دوستانو په کچه به ځان ته دښمنان هم پیدا کړي او بله دا چې هغوی [طالبان] د شخړې د اصلي لامل او ریښو اړوند معلومات نه لري. اما په هره کچه چې مخالفو ډلو د دولت او ټولنو تر منځ واټن منځ ته راوړی وي، روښانه ده چې د سیمې د اوسیدونکو او کوچیانو د شخړو د نه اوارۍ له کبله د دولت ناکامي ده او د دولت مشروعیت ته یې زیان رسولی دی.

## سپارښتنې

د څېړنې پر مهال دا روښانه شوه چې حکومتی چارواکي د کوچیانو او د سیمې د اوسیدونکو د شخړو او تاوتریخوالي څخه خبر و خو په دې اړوند یې د شخړو له ماهیت څخه روښانه انځور نه درلود. حکومتی چارواکو او بیلو سیاستوالو په شخړو کې د ښکیلو خواوو او ټولنو څخه ملاتړ کاوه. اما په دې اړوند چې د دې شخړو لاملونه څه و کافي او بیطرفه شواهد شتون نه درلود. د بیلګې په ډول، هزارګان ادعا کوي چې د هزارجات ډیر وګړي اوس ډیر خاروي لري او پراخه څرځایونو ته اړتیا لري. تر هغه چې سمه سروی ترسره نشي او د تیرو ۴۰ کلونو د بدلونونو جزییات معلوم نه شي شونې نه ده دغه راز مسئلو ته سمه او په جدی توګه رسیدنه وشی.

د کوچیانو ریاست چارواکي دا مني چې هغوی د کوچیانو او میشتو وګړو د شخړو د اغیزمنې څارنې لپاره کافي سرچینې نه لري ترڅو د سیمې د اوسیدونکو او کوچیانو تر منځ د شخړو دوسیې څرنه او سمه رسیدنه ورته وکړي. دا موضوع تر یوې کچې د لاسرسۍ (د حکومت له خوا سیموته) مسله ده. څکه چې ډیری سیمې د حکومت د کنترول څخه بهر دی. اما نوموړی ریاست دا امکانات هم نه لري چې د کنترول لاندې سیمو ته د تګ راتګ څخه کار واخلي. [48]

په ۲۰۱۸م کال په خوست ولایت د دې ریاست د یوې شعبی عملیاتی لګښتې بودجه ۱۰۰۰ ډالروته رسیده په داسې حال چې د اداری کارکونکو په ګډون د دې شعبی تقریبا لس تنه کارکونکې د سیمې د اوسیدونکو او کوچیانو تر منځ د ۲۰ شخړو سره مخ و.[49] په میدان وردګ ولایت کې د دې سره سره چې دا ولایت د سیمې د اوسیدونکو او کوچیانو د شخړو تر اغېزو لاندې راغلی په ۲۰۱۸م کال کې یې د کوچیانو د چارو د انسجام د خپل واک عمومی ریاست شعبی د یوه ساتونکې په ګډون یوازې څلور کارکونکي درلودل.[50] په فراه ولایت کې ۸۲۳۰۰ کوچیان ثبت شوي [51] اما په ۲۰۱۸م کال په دې ولایت کې د کوچیانو د ریاست د دې شعبی عملیاتی لګښتې بودجه ۱۴۵ امریکایي ډالرو ته رسېده چې دې شعبی د ټرانسپورت وسایل هم نه درلودل. په قندوز ولایت کې د کوچیانو د ریاست څانګه د پنځو کارکونکو (د یوه ساتونکې او یوه صفاکار په ګډون) درلودونکې وه تر څو ۲۲۲۴۳ کوچي کورنیو ته رسیدنه وکړي.[52]

---

۴۶ د قومي مشر (ایم.آی.بي) سره مرکه، فراه ولایت، د ۲۰۱۷ م. کال جون میاشت؛ په فراه ولایت کې د کوچي مشر (اس.ای.ان) سره مرکه، د ۲۰۱۷ م. کال جون میاشت؛ په فراه ولایت کې د نورزي قبیلې د میشت مشر (ان.ان.ان) سره مرکه، د ۲۰۱۷ م. کال جون میاشت؛ په فراه ولایت کې د کوچي مشر (آی.بی) سره مرکه، د ۲۰۱۷ م. کال جون میاشت؛ په فراه ولایت کې د کوچي (ام.کا.بی) سره مرکه، د ۲۰۱۷ م. کال جون میاشت.

۴۷ د کوچیانو په ریاست کې د جرګو او اقتصاد څانګې مشر زمرد خان منګل سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال مارچ میاشت؛ په خوست ولایت کې له کوچي مشر (ای. ایچ ان) سره مرکه، لاکان سیمه، د ۲۰۱۸ م. کال می میاشت.

۴۸ د لوګر ولایت کې د کوچیانو د ریاست له مشر موسی پوپل سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال فبروری میاشت.

۴۹ په خوست ولایت کې د کوچیانو د ریاست له یو مدیر سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال فبروری میاشت.

۵۰ د میدان وردک د ولایت د کوچیانو د چارو د انسجام خپلواک عمومی ریاست د رئیس محمد همایون عزیزی سره مرکه ۲۰۱۸م کال فبروری میاشت.

۵۱ د فراه ولایت د کوچیانو رئیس، انجینیر فضل احمد نورزي سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال فبروری میاشت؛ د فراه د علماوو په شورا کې د منځګړي مولوي عبدالرحمن سره مصاحبه، ۲۰۱۸م. کال اپریل میاشت.

۵۲ په کندوز ولایت کې د کوچیانو د ریاست له رئیس بارکزي مخلصیار سره مصاحبه، د ۲۰۱۸ م. فبروری میاشت.

همدا راز د عامه څړځایونو نقشې نوي کېدلو ته ارتیا لري ترڅو څړځایونو د ملکیت د معلومولو لپاره ترې کار واخیستل شي. په پخوانیو شاهي فرمانونو باندې بسنه کول کوم چې د جګړې له دوران مخکې نافذ شوي دي او اوس وګړو ته د څړځایونو د ټاکلو په برخه کې د اعتبار وړ نه دي بې ځایه دي. ځکه ډیر څړځایونه ویجاړ او ډېر یې هم کم شوي دي. ځینې دولتي چارواکي دا خبره په ضمني او ښکاره ډول مني.[53] که څه هم د نوموړې چارې لپاره شته کومه سرچینه نشته.

د کوچیانو اړوند یوه سمه او کره سروې هم اړینه ده ترڅو هغوی ته د مهال ویش جوړولو په خاطر تری کار واخیستل شي. هغه نظریې کومې چې دولتي چارواکي په ټینګه د هغو څخه ملاتړ کوي.

> که دا مهال ویش او پلانونه په ټول هیواد کې عملي شي نو زه ډاډ ورکوم چې ۸۰ سلنه شخړې به ورسره حل شي.[54]

د کوچیانو مهال ویش باید د دولت په مرسته او د میشتو وګړو سره په سلا جوړ شي. د خپلو څارویو د تغذیې په برخه کې باید د میشتو وګړو اړتیا هم په پام کې ونیول شي. د کوچي او میشتو ځایي ټولنو د شته ناسم وضعیت او إحساس په پام کې نیولو سره به ناشونی وي چې د یو اړخ په خپل سرپریکړې په بل اړخ و منل شي او نه به هم مهال ویش د ټولنې په کچه مدیریت شي. د مهال ویش د پلي کیدو څارنه او څارنه به په خپل ځای پاتې وي.[55]

په حقیقت کې د کوچیانو ریاست مخه د بهرنیو سلاکارانو په ملتیا او مرسته په مهال ویش کار پیل کړی دی.[56]

د نوموړي مهال ویش د جوړولو لپاره مونږ اړیو چې د کوچیانو د ژوند یوه سروې تر سره کړو چې په کومو وختونو کې باید کوچیان کوم ځانګړي ولایت ته وکوچېږي. مونږ باید په ټول افغانستان کې د کوچیانو د موسمي خوځښتونو اړوند ډیر معلومات راټول کړو... که مونږ په سم ډول د کوچیانو د لیږد پلان جوړوو نو له پیښیدو څخه وړاندې به مو د ډیرو شخړو مخه نیولې وي. دا مهال کوچیان د لیږد او مهاجرت ځانګړی پلان او مهال ویش نه لري او کله چې وغواړي له کوم مخنیوي پرته هر ځای ته ځي.[57]

په ځینو سیمه ایزو برخو کې، د کوچیانو ریاست د کوچیانو لپاره د مهال ویش په جوړولو کې مرسته کړې چې د راپورونو پر بنسټ یې د شخړو مخنیوی کړی دی.

> د څړځای پر سر د شخړې په برخه کې، مونږ د کوچي وګړو د لیږد لپاره مهال ویش جوړ کړ او له دې لارې مو د میشتو او کوچي وګړو تر منځ چې کډه کوي او بیا په ځانګړي وختونو کې دې ولایت ته راځي ستونزه حل کړه. زه فکر کوم ټوله ستونزه په مهال ویش کې وه.[58]

د کوچیانو لپاره د داسې مهال ویش په جوړولو کې د نورو دولتي ادارو د مرستې اړتیا هم شته په ځانګړي ډول د کرنې وزارت کوم چې څړځایونه به په ښه کوي.[59] د څړځایونو بیا رغونه د کوم لپاره چې باید د کلیو بیا رغونې وزارت په نوموړې پروسه کې شامل کړای شي.[60] د کوچیانو ریاست د نورو دولتي ادارو د ډیر ځواک غوښتنه کوي تر څو د کوچیانو د میشت کیدو ستونزې ته لاسرسی وشي.[61]

یوه بله تګلاره چې د کوچیانو او د سیمې د اوسېدونکو د شخړې په حل کې اسانتیا رامنځته کوي د کرنیزو ځمکو څخه دیوالونه تاویدل دي. ځینې چارواکي په دې برخه کې د ځینو دولتي ادارو لکه د کرنې وزارت ونډه اړینه ګڼي.

> که مونږ په ټولنه کې د کوچیانو او بزګرانو ستونزې ته وګورو نو بنسټ یې د کوچیانو له لوري د ځایي بزګرانو د حاصلاتو او فصل ویجاړېدل دي. ځکه خو زه فکر کوم چې دا د کرنې وزارت دنده ده تر څو له بزګرانو سره د هغوی د فصلونو په ساتلو او احاطوي دیوال کولو کې مرسته وکړي. زه فکر کوم په دې سره به ستونزه حل شي خو دولت د نوموړې چارې لپاره بودجه نه لري.[62]

۵۳ په خوست ولایت کې د کوچیانو د ریاست له یو مدیر سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال فبروري میاشت.

۵۴ د فراه ولایت د کوچیانو رئیس، انجینیر فضل احمد نورزي سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال فبروري میاشت.

۵۵ د الکوزي قبیلي مشر (م.ی.ی.) سره مرکه، کوه دانه سیمه، فراه ولایت، د ۲۰۱۷ م. کال جون میاشت؛ د خوست ولایت د کوچیانو ریاست له کارکوونکي سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال فبروري میاشت.

۵۶ د لوګر په ولایت کې د کوچیانو د ریاست له مشر موسی پوپل سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال فبروري میاشت.

۵۷ د لوګر په ولایت کې د کوچیانو د ریاست له مشر موسی پوپل سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال فبروري میاشت.

۵۸ د فراه په ولایت د کوچیانو رئیس، انجینیر فضل احمد نورزي سره مرکه، د ۲۰۱۸م. کال فبروري میاشت.

۵۹ په خوست ولایت کې د کوچیانو د ریاست له یو کارکوونکي سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. فبروري میاشت.

۶۰ د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت د اوبو رسونې برخې د متخصص انجنیر میرخېل سره مرکه، کابل، ۹ اکتوبر ۲۰۱۷.

۶۱ د لوګر په ولایت کې د کوچیانو د ریاست له مشر موسی پوپل سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. فبروري میاشت.

۶۲ د فراه په ولایت د کوچیانو په ریاست کې له انجینیر فضل احمد نورزي سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. فبروري میاشت.

د کوچیانو لپاره د مهال ویش نظریه د ټولو نظریو ترمنځ ډېره د لاسرسي او پلي کېدو وړ ده. دیوال تاویدل به لوړ لګښتونه ولري او میشتو وګړو له لوري چې رمې ساتي د څړځایونو د کارولو اړوند معلومات هم نه ورکول کېږي.

هغه فکر چې په ځانګړي ډول د دولتي چارواکو او ځایي اوسېدونکو له لوري پرې ډېر ټینګار کیږي، په اوږد مهال کې د کوچي او میشتو وګړو د ستونزې د حل لپاره د کوچیانو میشت کول دي. میشت کیدل کیدای شي یوازې د کرهنیز کیدلو پر ځای نورې ډیرې معناوې او خواوې ولري.[۲۳] د کوچیانو ریاست د کوچي وګړو د میشت کیدلو لپاره په درې طرحو کار کوي:

- ښارونو ته نږدې کوچیانو ته د ښارګوټیو د جوړولو طرحه چېرته چې به هغوی میشت شي او ښاري ژوند به پیل کړي؛
- په لیرې پرتو سیمو کې د کوچیانو د فارمونو د جوړولو طرحه. په دې توګه هرې یوې کورنۍ ته د ۱۰ جریبه ځمکه ورکړل شي چېرته چې به هغوی کورونه او کرنیزې ځمکې جوړې او د خپلو څارویو پالنه به کوي؛
- د کوچیانو لپاره د موسمي اوسېدنې سیمو شاوخوا د خدماتي مرکزونو د جوړولو طرحه. (روغتیایي خدمتونو او تعلیم او تربیه او نور).

د ۲۰۱۸ کال په لومړیو کې دغسې یو پلان د بدخشان په خواش کې عملي شو او د بلخ، لوګر او فراه لپاره د نوموړو پلانونو د پلي کولو تابیا شوې ده.[۲۴]

په حقیقت کې، د نوموړې نوي پلان له جوړښت مخکې د کوچي او میشت وګړو د شخړې د حل اړوند ځینې تجربې شته دئ. دا چاره د افغانستان د اساسی قانون د ۱۴ می مادې سره سمه وه، چېرته چې ویل شوي که دولت کولای شي نو باید د کوچیانو میشت کیدو ته لاره هواره کړي. کوچیانو ته باید هلته ځمکه ورکړل شي چېرته چې هغوی غواړي میشت شي. د میشت ځایونو لپاره د سیمو د په ننبه کولو یوه تجربه د ده سبز په باریکاب سیمه کې وه. په حقیقت کې چارواکي د خپلې پریکړې په عملي کولو کې پاتې راغلل.[۲۵] همدارنګه د لوګر په خاکي دښتې او زرغون دښتې کې هم دا چاره تر سره شوه خو هغه وخت ناکامه شوه چې کوچیان ډېر ژر له هغه سیمو څخه وکوچېدل. دا چې وروستی هڅه ولې ناکامه شوه، لامل یې د اغېزمن پلان نه شتون او نامناسب موقعیت ښودل کیږي. د نورو سیمو په پرتله په نوموړو سیمو کې د خدماتو خراب کیفیت هم له دې سره مرسته کړې چې کوچیان په نویو کلیو کې میشت شي.[۲۶]

د مخکنۍ تجربې ناکامیدل دا ګواښ رامنځته کوي چې د کوچیانو او میشتو وګړو شخړې له پورته څخه د ډیزاین شوي پلان له مخې ممکن حل نه شي. په هر حال، ډیری کوچیانو له ۲۰۰۱ میلادی کال راهیسې او له هغه مخکې کوچي ژوند پیل کړی. ډیرو یې دغه کار د نه حل کیدونکو شخړو له امله کړی ځکه خو دا خبره مطرح نه ده چې ګواکي څوک دې میشت کیدل خوښ نه کړي او یا دې ورته اړتیا و نه لري. د میشت کیدو هر نوی پلان باید په ډیری پاملرنې سره وسنجول شي ځکه ویره دا ده چې د میشت کیدو پلان د شخړو د کمښت پر ځای شونې شخړې لا ډیرې کړي.

د کوچیانو ریاست د یو سر تړلي اقتصاد په تګلارې او پلان په پرمختګ کار کوي چېرته چې به میشت وګړي د غذایي توکو د مرحلې په کارخونو کې کار کوي او کوچیان به ورته د اړتیا وړ خامه غوښه تیاروي چې دا چاره په هزاره جاتو کې د پلي کیدو وړ نه ده ځکه هلته وګړي د اړتیا وړ غوښې لپاره خپل ډیر څاروي لري او کوچیانو ته یې اړتیا نه پیدا کیږي.[۲۷]

په پای کې، حکومتي چارواکي دا مني چې د کوچیانو او میشتو وګړو شخړې له اوږدې مودې راروانه یوه بده پدیده ده او باید لاسرسی ورته وشي. نوموړې ستونزه نه یوازې د کرنیزو ځمکو د ویجاړیدو او څارویو د لمنځه کیدو له لارې د افغانستان اقتصاد ته زیان رسوي بلکې د افغانستان د دولت مشروعیت یې هم تر پوښتنې لاندې راوړي. چارواکي په دې برخه کې پلانونه جوړوي او په ځینو مواردو کې یې په کوچنۍ کچه د نوي پالیسیو پلي کول پیل کړي چې موخه یې د کوچیانو او میشتو وګړو د شخړو حل دی. له نوموړو پالیسیو څخه یې د ځینو پلي کول اسانه دي خو ټول د بودجې د کمښت او ناکافي معلوماتو له ستونزې سره مخ دي.

۲۳ په خوست ولایت کې د کوچیانو د ریاست له یو کارکوونکي سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. فبروری میاشت؛ په کندوز ولایت کې د کوچیانو د ریاست له رئیس بارکزي مخلصیار سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. فبروری میاشت.

۲۴ د کوچیانو په ریاست کې د جرګو او اقتصاد څانګې مشر زمرود خان منګل سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال مارچ میاشت. د فراه ولایت د کوچیانو په ریاست کې له انجینیر فضل احمد نورزي سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. فبروری میاشت.

۲۵ د کابل په ده سبز ولسوالۍ کې د تره خېل قبیلې له یو کوچي مشر سره مرکه، د ۲۰۱۷ م. کال جنوری میاشت.

۲۶ د څړځایونو د څانګې د کارکوونکي سره مرکه، کابل، د ۲۰۱۷ م. کال سپټمبر میاشت.

۲۷ د بامیان ولایت د ورس ولسوالۍ له هزاره مشر (اچ.ای.) سره مرکه، د ۲۰۱۸ م. کال می میاشت. د هزاره مشر (حاجي آر.ای.) سره مرکه، بامیان ولایت، د ۲۰۱۸ م. کال می میاشت.

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېوالـه ده چې د دغـې څېړنـې د کاروونکو نظرونـه واوري. کـه تاسـو زمـوږ د خپرونـو یـو دوامداره لوسـتونکي یاست، د AREU لیکچر یـا ورکشـاپ کـې مـو ګډون کړی، کتابتـون یـې کاروئ، یـا یـوازې پـه دې وروسـتیو کـې لـه دغـه ادارې سره بلـد شـوي یاسـت، ستاسـو نظرونـه او غبرګـون زمـوږ لپـاره ارزښـت لـري. دغـه نظرونـه مـوږ سره مرسـته کولـی شـي چـې خپلـې موخـې پـه لا ښـه ډول لاسـته راوړو او د څېړنـې پـه اړه خپلـې تـګلارې او د پایلـو د شـریکولو طریقـې و ارزوو. د نظرونـو شـریکولو تـر ټولـو اسـانه لار مـوږ تـه ایمیـل کـول دي: areu@areu.org.af

یـا کولـی شئ مـوږ تـه زنـګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸. تاسـو چې هر څـه غـواړئ مـوږ تـه یـې ویلـی شئ، خـو پـه ممکنـه ډول یـو څـه ګټـور مالومـات دا دي:

- تاسو لـه AREU سره څنګـه اړیکـه نیسـئ (یعنې د خپرونـو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU لـه څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګـه کولی شي تاسو ته مالومات پـه لا ښـه ډول وړاندې کړي؟
- زمـوږ د څېړنې د بهیرونو یـا پایلو پـه اړه ستاسو نظرونه؟
- هغـه برخې یـا موضـوع ګانې چې تاسو یې پـه اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښـتنه کوئ؟
- د AREU هغـه خپرونـې یا فعالیتونه/غونـډې چې ستاسو ډېرې خوښـېږي؟
- ستاسو پـه اند مـوږ پـه کومو برخو کې خپل کار ښـه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغـه راز موقعیت؟

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری نوی خپرونی

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسي وړ دي، او ډېرې ئې د هارد کاپي(چاپي بڼه) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نېټه | د خپرونې نوم | لیکونکی ( مولف) | په دری ژبه | په پښتو ژبه | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۱۳۹۷ لړم | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه | : میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسۍ نوټ |
| د ۱۳۹۷ مرغومی | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د کوچیتوب، د کوچیانو او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د افغانستان د دولت رول | ډاکټر انتونیو ګیستوزی | √ | √ | د کوچیانو او د سیمې د اوسیدونکو ترمنځ ښخړې | تحلیلی څېړنه |
| د ۲۰۱۸ اپریل | نور معیاری پروګرامونه بس دي: په ماتیدونکو شرایطو کې اقتصادي پرمختګ | SLRC | | | تولنیز ملاتړ | لنډه لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | سوپروا نارا سیمهایا | | | تولنیز ملاتړ | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | ولی محمد کندیوال | √ | √ | تولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خوندیتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | تولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د میشتو کوچیانو د شخړو ډولونه | انتونیو ګیستوزي | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتیا یا علامی؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو تریاکو اقتصاد | ویلیام ای. بایرد | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ دسمبر | په افغانستان کې د اروپایی ټولنې د ستونزې د غبرګون تحلیل | چونا آر. ایچاویز، قیوم سروش | | | تولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ اکتوبر | په واقعی توګه بیساری: په هلمند کې د خوړو زون څنګه په ولایتونو کې د تریاکو د تولید د ډېروالي ملاتړ وکړ | دیوید منسفیلد | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال اګست | په افغانستان کې قضایې بیا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | موضوعی څېړنه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۷ کال آگست | په افغانستان کې اجرايي بيا کتنه | کاوون کاکړ | √ | √ | اساسی قانون | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | ښځې د افغانستان په کرنه کې | لينا گانيش | | | جنسيت | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د اوبو په برخه کې د سمونې اغيزې | اتل احمدزی | | | حکومتولي | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | په افغانستان کې ښاري حکومتولی. | ديتليف کمير | | | حکومتولي | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د دولت د ادارو دندو ته بيا کتنه | اکسل کويتز | | | حکومتولی | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ جولای | په افغانستان کې د کوچيانو –بزگرانو شخړې | انتونيو جيو ستوزي | | | د طبيعی سرچينی مديريت | لنډيز |
| د ۲۰۱۷ کال جون | په افغانستان کې د حکومتولی د ارزونی چوکاټ (LGAF) | AREU | | | حکومتولی | ريپوټ |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معيشت تگ کرښې: د هرات له درې کليو څخه بيلگې | دانيل هت، ادم پين او احسان الله غفوري | | | ټولنيزه ساتنه | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوري | په افغانستان کې د معيشت تگ کرښې: د «وروسته پرمختيا» په وخت کې ژوند | جيوليا مينويا او ادم پين | | | ټولنيزه ساتنه | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معيشت تگ کرښې: د کندهار په ولايت کې چوپ تاوتريخوالی | دانيل هوټ، ادم پين او احسان الله غفوری | | | ټولنيزه ساتنه | کاری ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | زعفران: د توليد ټولينزې اړيکې | جيوليا مينويا او ادم پين | | | د طبيعی سرچينو مديريت | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۲ اکتوبر | د خوځښت وخت: په افغانستان کې د کوکنارو ترياکو، کښت ته د پرمختيائې غبرگون را مينځ ته کول | ديويد منسفيلد، پاول فيشستين او OSDR | | | د طبيعی سرچينی مديريت | موضوعی ليکنه |
| د ۲۰۱۲ آگست | په افغانستان کې د جنسيت په اړه د ځواب ورکوونکی بودجې جوړول: کار د پرمختگ په حال کې ده | نيلول برتش او سليمان هدايت | √ | √ | د ملکی خدمتونو سمونه او حاکميت | موضوعی ليکنه |
| د ۲۰۱۲ آگست | په افغانستان کې د ملکي خدمتونو سمون: ملکی خدمتونو د سکتور وندې او دندې | سيد حشمت الله هاشمی او گير هارد لاوت | √ | √ | د ملکی خدمتونو سمونه او حکومتولی | موضوعی ليکنه |
| د ۲۰۱۲ جولای | په افغانستان کې د کليو د شرايطو د ښننې کارول: ميتوودونه او پراخ دليلونه | ادم پين | | | پايښت لرونکې معيشيت | کاری ليکنه |



د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری ټولی خپرونی ددغی اداری له کورپاڼی (www.areu.org.af) څخه ترلاسه کولای شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
لسمه ناحیه، لومړی سړک، نوی ښار،
کابل، افغانستان
تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰) ۹۳+
برېښنالیک: publications@areu.org.af
ویب پاڼه: www.areu.org.af



ISBN 978-9936-641-25-9